# د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عاجزیانې

**04-July-2024**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پهٔ 4 جولائي کال 2024ء (27 ذوالحج، 1445ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عاجزياني

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د مولا علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ايمان تازه کوونکې دُعا
- د نفس د وسوسې نا اشنا علاج
- د عرب او د عجم د خليفه جامې
- ادنیٰ جامې د ايمان علامت دے

پیشکش
اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ
Islamic Research Center
(شعبہ :بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

**For Feedback**:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

حضرت ابو حفص کاغذي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیر لوئي سردار وو، د هغوئي د وفات نه پس چا هغوئي په خوب کښې ولیدلو او پوښتنه یې ترینه وکړه چې الله پاک ستاسو سره څۀ معامله ووفرمائیله؟ جواب یې ورکړو چې الله پاک رحم وکړو، زه یې اوبخښلم او جَنَّت یې راته عطا کړو۔ خوب لیدونکي پوښتنه وکړه: په څۀ وجه؟ اوئې فرمائیل: د الله پاک په بارګاه کښې زما حاضِري وشوه، زما حساب واخستلے شو، فرښتو ته حُکم وشو چې د دۀ ګناهونه وشمیرئ! فرښتو ګناهونه وشمیرل۔ بیا حکم وشو: دۀ چې په دُنیا کښې زمونږه په محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې کوم درود شریف لوستلے دے، هغه وشمیرئ! فرښتو زما لوستلے شوے درود شریف وشمیرلو۔ **بس زما لوستلے شوے درود شریف زما د ګناهونو نه زیات راوختلو۔ نو الله پاک ووفرمائیل: بَس! اے فرښتو کافي دہ۔ د دۀ سره نور حساب مۀ کوئ! دا زمونږه جنَّت ته بوځئ...!** (1)

| | |
|---|---|
| قربِ خُدا ہو حاصل جنت میں ہو وہ داخل | جس نے لکھا پڑھا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد |
| جانے بھی دے اِرم کو رِضوان نہ روک ہم کو | سینے پہ لکھ لیا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد |
| جنت مقام ہوگا دوزخ حرام ہوگا | گر دل پہ لکھ لیا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... القولُ البدِیْع، صفحہ:124۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: **اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات** د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

## صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!    صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مولا علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ایمان تازه کوونکې دُعا

حضرت علي بن حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: یو ځل د جُمعې پهٔ اجتماع کښې د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت مولا علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ داسې دُعا وکړه: اَللّٰهُمَّ اَصْلِحْنَا بِمَا اَصْلَحْتَ بِهِ الْخُلَفَاءَ الرَّاشِدِیْن اے خوږه الله پاکه! زمونږه داسې اصلاح ووفرمایه لکه څنګه چې تا د خلفائے راشدین اِصلاح ووفرمائیله۔

د جُمعې [د نمونځ] نه پس د بنو هاشِم یو ځلمے د مولا علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ خدمت کښې حاضر شو او عرض یې وکړو: اے اَمیرُ المُؤمِنین! تاسو دُعا کړې وه چې اِلٰهی! تا چې څنګه د خلفائے راشدین اِصلاح ووفرمائیله، زمونږه هم داسې اِصلاح ووفرمایه۔ د خلفائے راشدین نه ستاسو څهٔ مُراد دے؟ دا یې چې واوریدل نو د مولائے کائنات، مولا علي مُشکل کشا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ سترګو کښې اوښکې راغلې، بیا یې ووفرمائیل: **د خلفائے راشدین نه زما مُراد حضرت ابو بکر صِدّیق او عمر فاروق** رَضِیَ اللهُ عَنْهما **دي۔** مولا علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نور ووفرمائیل: ❀ دا دواړه شخصیات **د هدایت امامان دي** ❀ هم دواړه **شیخُ الاِسلام** دي ❀ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس هم د دوئي نه هدایت میلاویږي ❀ څوک چې د دې دواړو پیروي وکړي [یعنې د دوئي پهٔ لار روان شي] ، هغهٔ پهٔ صراطِ مستقیم [یعنې پهٔ نیغه لار] باندې روان دے ❀ څوک چې دا دواړه خپل امامان جوړ کړي، هغهٔ پهٔ هدایت باندې وي ❀ **او څوک چې د ابو بکر او عمر** (رَضِیَ اللهُ عَنْهما) **لمن کلکه ونیسي، هغه د الله پاک ډَله ده او هم د الله پاک ډَله کامیابه ده۔** [2]

---

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1 ۔

[2]... شرح اصول اعتقاد اہل السنۃ و الجماعۃ، جز:7، جلد:4، صفحہ:161، حدیث:2501۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** هم د حضرت مولىٰ علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ یو بَل فرمان واورئ! فرمائي: داسې اعمال نامه د کومې سره چې زۀ د قیامت په ورځ د الله پاک په حضور کښې حاضریدل غواړم، داسې اعمال نامه د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ده۔ (1)

الله! الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** یقیناً چې حضرت عليُ المرتضیٰ شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پخپله هم ډیره اوچته مرتبه لري ❁ د هغوئي په پاک سیرت ❁ د هغوئي په اخلاقو او عادتونو ❁ عبادتونو وغیره کښې هم هیڅ کمے نشته، هغوئي هم ډیر کمال لري خو هر کمال والا د زیات کمال په لور رغبت لري، یقیناً چې د مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دا فرمان مبارک زمونږ د تعلیم د پاره دے، تاسو د دې نه اندازه ولګوئ چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سیرت، د هغوئي کردار څومره عظیمُ الشان دے۔ دا په ذِهن کښې ساتئ چې په اعمال نامه کښې د انسان هر وړوکے او غټ عمل درج وي، لکه چې مولیٰ علي شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي چې هر هٰغه د وړوکي نه وړوکے عمل او د غټ نه غټ عمل کوم چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په اعمال نامه کښې لیکلے شوے دے، زۀ غواړم چې بالکل هم هٰغسې اعمال زما په اعمال نامه کښې هم درج وي۔

بہارِ باغِ ایماں، حضرت فاروقِ اعظم ہیں
چراغِ بزمِ عرفاں، حضرت فاروقِ اعظم ہیں
نمایاں آپ کی ہر اِک ادا سے شانِ فاروقی
خدا کی تیغِ بُرّاں، حضرت فاروقِ اعظم ہیں (2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ مختصر تعارف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** حضرت عُمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ عظیم صحابئ رسول بلکې مُرادِ رَسُول دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي د الله پاک نه غوښتلي وو یعني رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دعا فرمائیلي وه، د کومې په نتیجه کښې چې حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اسلام قبول کړو۔

---

[1]... بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عمر بن الخطاب، صفحہ:934، حدیث:3685 ۔
[2]... دیوانِ سالک، صفحہ:73۔

رسول اللہ نے فاروق کو اللہ سے مانگا
عطاءِ رَبِّ سُبحاں، حضرتِ فاروق اعظم ہیں
چُنا اس پاک نے دیں کے لئے اس پاک ستھرے کو
حبیبِ دِین داراں، حضرتِ فاروق اعظم ہیں (1)

❁ د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اسلام قبلولو سره د اِسلام پۀ عزت او غلبه کښې زیاتوالے راغلو، مسلمانانو ته حوصله میلاؤ شوه ❁ هم د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِسلام قبلولو نه پس مسلمانانو پۀ حرمِ پاک کښې ښکاره نـمونځ ادا کړو ❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته خپل وزیر ووفرمائیلو ❁ حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د الله پاک خوښ دے ❁ د هغوئي پۀ اِسلام قبلولو فرښتو خوشحالي وکړه ❁ د بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه هغوئي ته د فارُوق لقب عطا شو۔ **د فاروق معنیٰ ده:** پۀ حق او پۀ باطِل کښې فرق کوونکے ❁ د قرآنِ کریم تقریباً 20 آیتونه د هغوئي د رائے سره یو شان نازل شول ❁ هغوئي ته د دې اُمَّت محَدَّث ووفرمائیلے شو او مُحَدَّث هغۀ وي د چا پۀ ژبه چې فرښتے کلام کوي ❁ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِسلام پۀ ټولو اهمو منصوبو کښې د الله پاک د حبیب، حبیبِ لبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خصوصي صلاح کار پاتې شو ❁ ټول ژوند یې د حضور جانِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې تیر کړو ❁ د وړومبي خلیفه حضرت ابو بکر صدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د وفات نه پس تر دولسو کالو پورې د مسلمانانو خلیفه او اَمِیرُ المُؤمِنِین پاتې شو۔

پسِ صدیق اکبر مصطفٰے کے سب صحابہ میں | ہے بے شک سب سے اُونچا مرتبہ فاروقِ اعظم کا (2)

❁ آخر پۀ مسجدِ نبوي شریف کښې، د سحر د نـمونځ د جَمعې ورکولو پۀ وخت یو کافِر پۀ هغوئي باندې پۀ خنجر [یعنې چاړۀ] باندې حمله وکړه، پۀ کومه کښې چې هغوئي زخمي شو او پۀ مدینه منوَّره کښې یې د شهادت مرتبه حاصله کړه۔ حضرت صُهَیب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغوئي جنازه وکړه او پۀ روضه مبارکه کښې د حضور جانِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خوا مبارکه کښې خاورو ته وسپارلے شو۔ (3)

---

[1]… دیوانِ سالک، صفحہ:73، 74۔

[2]… وسائلِ بخشش، صفحہ:526۔

[3]… کراماتِ فاروقِ اعظم، صفحہ:5 تا 6 خلاصۃً۔

حیاتی میں تو تھے ہی خدمتِ محبوبِ خالق میں | مزار اب بھی ہے قریبِ مصطفٰے فاروقِ اعظم کا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عاجزیاني

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ د حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمان مبارک واوریدو، د هغوئي ارمان وو چې زما اعمال نامه دې هم هٰغسې وي لکه څنګه چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ده. کاش چې دا ښکلے ارمان زمونږه هم نصیب شي، کاش چې مونږه هم د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ نقشِ سیرت باندې تلونکي، د هغوئي پهٔ شان د اخلاقو او کردار اختیارولو والا جوړ شو.

بیشک مئے توحید سے سرشار عمر ہیں | ہے سب کو پتہ پر تَوِ سرکار عمر ہیں
سیرت میں نمایاں ہیں شہِ دین کے جلوے | اخلاص کا پیکر ہیں! وفادار عمر ہیں

**وضاحت:** بے شکه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د الله پاک پهٔ توحید کښې داسې ډوب، د اخلاص او وفا نمونه، د سُنّتو داسې پابند دے چې د هغوئي پهٔ سیرت مبارک کښې د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژوند جلوې پهٔ نظر راځي، ځکه خو ټولو ته معلومه ده چې هغوئي د نبي پاک صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عکس دے.

یقیناً د دې کار د پاره د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پاک سیرت لوستل، د هغې نه رڼا اخستل ډیره ضروري ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د دعوتِ اِسلامي علمي او تحقیقي شعبے المدینة العلمیه (اسلامِک ریسرچ سنٹر) د هغوئي پهٔ سیرت مبارک باندې ډیر جامِع کتاب : **فیضانِ فاروقِ اعظم** لیکلے دے، د دوو جلدونو ډیر غټ کتاب دے. د مکتبة المدینه نه میلاویدے شي، دا واخلئ! یا یې د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net نه ډاؤن لوډ کړئ! دا ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او د دې پهٔ ذریعه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د سیرت، د هغوئي د اخلاقو، کردار او عادتونو معلومات حاصل کړئ او پهٔ دې باندې د عمل کولو کوشش وکړئ!

## د نفس د وسوسې نا اشنا علاج

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خلافت دور وو، یو ځل هغوئي ناڅاپه اعلان کړو چې ټول خلق جومات ته راجمع شئ. نو زر ټول خلق جومات ته راجمع شول، بیا حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ منبر باندې تشریف کیښودو، هغوئي د الله پاک حمد او ثنا بیان کړله، بیا یې ووفرمائیل: اے خلقو...!! ما د خپل ځان پهٔ باره

کښې غور وکړو نو ما ته راياد شو چې يو وخت هغه هم وو چې ما به د خپلې ترور بي بي [د مور بي بي د خور] چيلۍ څرولې، د هغوئي د پاره به مې د کوهي نه اوبه راويستلې، زما په دې کار باندې به ما له زما ترور يو ډک موټے کجورې راکولې۔
حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بس هم دومره ووفرمائيل او د منبر نه يې لاندې تشريف يوړلو۔ (خلق حيران وو چې دا څۀ خبره شوه، ټول خلق يې راجمع کړل، په منبر باندې تشريف فرما شو، مونږ خو دا ګڼله چې ډيره اهمه خبره به وې خو هغوئي خو د خپل تير وخت يوه عامه شان خبره بيان کړه او بس۔۔۔!! آيا مونږ ټول صرف د دې خبرې د پاره راجمع کړے شوي وو؟) په دې خلقو کښې عظيم صحابئ رسول حضرت عبد الرحمان بن عوف رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هم موجود وو، هغوئي همت وکړو او عرض يې وکړو چې اے اَمِيرُ الْمُؤمِنِين! ما ته داسې نه ښکارې چې تاسو صرف هم د دې خبرې د پاره خلق راجمع کړي دي؟ شايد چې تاسو څۀ نور څۀ فرمائيل غواړئ؟ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ووفرمائيل: اے د عوف ځويه! خبره په اَصل کښې دا ده چې زۀ يواځې ووم، زما نفس ما ته ووئيل: اے عمره! اوس تۀ اَمِيرُ الْمُؤمِنِين يې، د ټولو مسلمانانو خليفه يې، ستا او د خدائے ترمينځه دا وخت څۀ بله واسطه نشته، بس هم تۀ د ټولو نه افضل يې۔۔۔!! اوئې فرمائيل: **چې کله ما ته زما نفس داسې وسوسه راواچوله نو ما تاسو ټول راجمع کړئ او خپل پخوانے ياد مې ستاسو د ټولو په مخکښې بيان کړو او نفس ته مې د هغه اوقات ورياد کړل۔** (1)

الله! الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دا څومره عظيمه خبره ده۔۔۔!! ❀ د وخت خليفه دے ❀ قطعي جنّتي صحابي دے ❀ يقيناً چې د هغوئي د خلافت دور وو، يعنې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د دُنيا نه پرده فرمائيلې وه، هغه وخت په ژوندو خلقو کښې د ټولو نه افضل هم حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ وو، چې کله داسې حالت وي، انسان دومره اوچتې مرتبې ته رسيدلے وي نو کله نا کله په زړۀ کښې خيال راځي چې زۀ د څومره اوچتې مرتبې والا يم خو قربان شم چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سوچ څومره اعلیٰ وو، هغوئي د نفس د چلونو او شرارتونو نه تر کوم حده پورې خبر وو چې لږ شان خيال راغلے، د دې نه وړاندې چې دا خيال د ځان خوښۍ په لور تلے وے، هغوئي فوراً په ګڼو خلقو کښې ودريدل او ماضي يې راياده کړه او نفس ته يې دا ووئيل چې اے نفسه! **نن چې کومه مرتبه تا ته حاصله ده، په دې باندې غرور مۀ کوه، دا ټول د الله پاک کرم دے، د هغۀ عنايت دے، هميشه د هغۀ په حضور کښې عاجزي کوه او د شُکر نه سر ښکته ساته۔**

---

[1]... المجالسۃ و جواہر العلم، جز:12، جلد:2، صفحہ:164، رقم:1683 بتصرف۔

| | |
|---|---|
| دوسرے بر حق خلیفہ نائبِ میرِ حجاز | شوکتِ اسلام کا وہ اک نشانِ امتیاز |
| نامِ نامی تھا عمر جن کا، لقب فاروق تھا | پیکرِ عزم و حمیّت، صاف ظاہر پاکباز |

**وضاحت:** د الله پاک د حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دویم برحق خلیفه د چا نوم چې **عمر** او لقب **فاروق** دے، د اِسلام د شان او شوکت امتیازي نخښنه ده. هغوئي د ارادې او حوصلې، د دیني غیرت، د ظاهر او د باطن د پاکوالي آئینه دار وو۔

## د نفس د شرارتونو نه ځان بچ ساتئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په دې کښې زمونږ د پاره هم سبق دے۔ وروړمبے خو دا چې مونږ د نفس د داسې چلونو نه کله خبرېږو، حال دا دے چې مونږ ګنهګاران یو ❀ زمونږه مقام هغه نه دے کوم چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو ❀ زمونږه عبادتونه د هغې درجے نه دي د کومې درجے چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو ❀ زمونږه کردار هغه شان نه دے لکه څنګه چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو ❀ زمونږه اخلاق هغسې نه دي لکه څنګه چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو ❀ په دنیائي لحاظ سره هم زمونږه مقام، مرتبه، عزت، شهرت د هغې درجے نه دي د کومې درجے چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو، د دې باوجود زمونږه حال بے حاله دے، نفس چلونه کوي، د دې چلونو نه ځان بچ کول خو غټه خبره ده، مونږ د دې چلونو نه هډو خبرېږو هم نه ❀ زمونږ د دننه وجود نه اواز راځي چې ته ډیر نیک یې۔ مونږ یې اومنو ❀ د دننه وجود نه اواز راځي چې ته ډیر جانداره، شانداره، عبادت ګزاره، بے مثاله یې، مونږ یې اومنو ❀ نفس وائي چې ته په لکونو کښې نه بلکې په کروړونو کښې یو یې، مونږ چپ شو او اوئې منو۔ مونږ ته هډو دا اندازه نه کیږي چې زمونږه نفس مونږه له دهوکه راکوي، زمونږه نفس مونږه په ځان خوښۍ، تکبر، غرور وغیره باطني بیمارو کښې اخته کوي، چې مونږ پرې پوهیږو نۀ نو د دې عِلاج هم نه کوو۔

تاسو ته معلومه ده چې تقریباً 50 ته نزدې باطني بیمارياني دي او دا ټولې په ټولې دوزخ ته بوتلونکې دي۔ عام طور د دې باطني بیمارو نومونه هم خلقو ته معلوم نه وي۔ بیا د دې تفصیل، د دې شرعي حکم، د دې نه د بچ کیدو طریقې وغیره وغیره دا دیني معلومات خو شاید چې د کمو خلقو سره وي۔

یوه اهمه خبره وکړم؟ دا ټولې باطني بیمارئ د خیالونو نه شروع کیږي۔ مثلاً ❀ ځان خوښي یوه باطني بیماري ده، په شروع شروع کښې زمونږ په ذِهن کښې صرف خیالات راځي، په ذهن کښې سوچ راځي چې زۀ خو دومره ښه یم، زۀ دا هم کووم،

هٰغه هم کووم، پهٔ ما کښې دا ښه صفت هم دے، هٰغه ښه صفت هم دے، بيا پهٔ ورو ورو دا خيالونه پهٔ زړهٔ کښې ځائے جوړول شروع کړي، بيا پهٔ ورو ورو دا خيالونه د ځان خوښۍ مرض جوړ شي ❀ دغه شان تکبر دے ❀ حُبِّ جاه (يعني د مقام او مرتبې خواهش) دے ❀ د تعريف خواهش دے ❀ د حِرص ❀ اوږد اُميد وغيره بيمارياني دي، دا ټولې د خيالونو نه شروع کيږي، بيا دا د مرض شکل اختيار کړي۔ د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د عِلم کمال ته وګورئ۔۔!! د هغوئي پهٔ زړهٔ کښې دا خيال راتلل بيماري نه وه، دا جُرم نه وو، دا ګناه نه وه خو هغوئي د نفس د چلونو نه پوره خبر وو، هغوئي د نفس د دې چل نبض ونيولو او دا يې ختم کړو۔

الله پاک دې زمونږ پهٔ حال باندې رحم وکړي، کاش چې زمونږه هم د باطني بيمارو نه، د نفس د چلونو نه بچ کيدل نصيب شي۔

| | |
|---|---|
| سر ہے خَم ہاتھ میرا اُٹھا ہے | یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے |
| فَضل کی رحم کی اِلتِجا ہے | یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے |
| حُبِّ دُنیا میں دل پھنس گیا ہے | نَفسِ بدکار حاوِی ہوا ہے |
| ہائے شیطاں بھی پیچھے پڑا ہے | یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے [1] |

## هم د نفس اِصلاح کوونکي کامياب دي

الله پاک پهٔ قرآن کريم کښې فرمائي:

قَدۡ اَفۡلَحَ مَنۡ زَكّٰىهَا ۝ وَقَدۡ خَابَ مَنۡ دَسّٰىهَا ۝ (پاره:30، الشّمس:10)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه چا چې نفس پاک کړلو هغهٔ کامياب شو۔ او بے شکه چا چې نفس پهٔ ګناهونو کښې پټ کړو هغهٔ ناکام شو۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ دې آيت کښې صفا صفا ووفرمائيلے شو چې کامياب هغهٔ دے څوک چې د نفس اِصلاح وکړي او څوک يې چې اِصلاح ونکړي نو هغهٔ ناکامه او نامُراده دے۔

## د نفس د مخالفت ترغيب

د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم يو لښکر چې د جهاد نه واپس راغلو نو د الله پاک د ټولو نه آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته ارشاد ووفرمائيلو: هر کلے! تاسو

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:134۔

د د وړوکي جنګ نه د لوئي جنګ په لور راغلي يئ۔ عرض وکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لوئي جنګ څۀ دے؟ ارشاد يے ووفرمائيلو: مُجَاهِدَةُ الْعَبْدِ هَوَاه يعنې د بنده د خپل نفس سره جنګ۔ (1)

پۀ يو بَل حديثِ پاک کښې دي: اَلْمُجَاهِدُمَنْ جَاهَدَ نَفْسَهٗ فِيْ طَاعَةِ الله يعنې مجاهد هغۀ دے څوک چې د الله پاک پۀ اطاعت کښې د نفس سره جنګ کوي۔ (2)

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، د نفس اِصلاح کول هم يو کار دے، پۀ ځان کښې عيب لټول او د هغې اِصلاح کول هم زمونږه ذمه واري ده بلکې دا اصلي ذمه واري ده، الله پاک دې مونږ ته د دې توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

فخر و غُرور سے تُو مولٰی مجھے بچانا | یاربّ! مجھے بنا دے پیکر تُو عاجِزی کا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به پۀ کوم کوم انداز کښې د خپل ځان خيال ساتلو؟ راځئ چې واورو!

## د نفس د ذليله کولو اراده

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ شهزاده حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: يو ځل حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د اوبو منګے پۀ اوګه کړے وو (حالانکې هغوئي هغه وخت خليفه وو، که غوښتلے يې نو پۀ ډيرو نوکرانو باندې به يې دا کار کړے وے خو هغوئي پخپله د اوبو منګے پۀ اوګه کړے وو) هغوئي ته عرض وکړے شو: حضور! تاسو پريږدئ! مونږ به دا کار وکړو۔ اوئې فرمائيل: اِنَّ نَفْسِیْ اَعْجَبَتْنِیْ فَاَرَدْتُّ اَنْ اُذِلَّهَا يعنې زما نفس زۀ پۀ ځان خوښۍ کښې اخته کړم نو ما د هغه د ذليله کولو پخه فيصله وکړه۔ (3)

اَللّٰهُ اَكْبَر! چرته د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پۀ شان د لوړې مرتبې والا او چرته د ځان خوښۍ پۀ شان خرابه باطني بيماري۔۔۔!! ځان خوښي خو به د هغوئي پۀ

---

[1]… الزہد الکبیر للبیہقی، صفحہ:165، حدیث:373۔

[2]… مسند شہاب للقضاعی، جلد:1، صفحہ:139، حدیث:183۔

[3]… المجالسۃ و جواہر العلم، جز:17، جلد:2، صفحہ:385، رقم:2423۔

خوا هم نه وي تیره شوې خو دا د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کمال عاجزي ده، هغوئي د وخت خلیفه وو، لهٰذا ویریدو چې هسې نه د دې منصب په وجه هغوئي په ځان خوښی کښې اخته نشي، ځکه به یې داسې د کمال عاجزۍ والا اداګانې اختیارولې۔

## زمونږ د عاجزۍ نهٔ لرونکي عادتونه

کاش چې زمونږه هم عاجزي او انکساري نصیب شي ❁ مونږ خو خلیفه هم نه یو ❁ څهٔ منصب راسره هم نشته ❁ عهده هم زمونږ سره نشته ❁ ډیر زیات عبادت ګزاره هم نه یو ❁ څهٔ ډیر لوئي عالِم فاضِل هم نه یو ❁ که چرته آئینې ته مخامخ کښینو او غور وکړو ❁ په انصاف سره د ځان تلاشي واخلو نو شاید چې په ځان کښې راته د فضیلت یوه خبره هم ښکاره نشي خو افسوس چې سراسر ګنهګار یو خو پته نه لګي چې ځان څهٔ ګڼو ❁ یو ګلاس اوبه هم ځان له پخپله راخستل راته ښه نه ښکاري ❁ که په کور کښې جامې استري نه وي نو چغې سورې وهو، غصې کوو ❁ که په وخت باندې خوراک میلاو نشي نو د غصې نه مو مخ سور شي، که نوکران وي او که نه وي، البته خواهش وي چې زهٔ بس په ارام سره په کرسۍ باندې ناست یم، وړاندې وروستو رانه نوکران وي، زما ټول کارونه کوي او زهٔ د نواب په شان ناست یم۔ کاش چې زمونږه عاجزي نصیب شي، کاش چې مونږه خپل ځان څهٔ ګڼل پرېږدو، کاش چې سر ټیټول، خپل ځان بالکل خراب، بے کاره وګڼو او بیا د دې مطابق مو ډیر په عاجزۍ سره ژوند تیرول نصیب شي۔

## د عاجزۍ او انکسارۍ سره اوچت والے نصیب کیږي

**په حدیثِ پاک کښې دي:** آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَا تَوَاضَعَ اَحَدٌ لِلّٰهِ اِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ چې څوک هم د الله پاک د پاره عاجزي اختیار کړي الله پاک هغهٔ ته اوچت والے عطا کوي۔ (1)

په یو حدیثِ پاک کښې یې ووفرمائیل: اَلتَّوَاضُعُ لَا یَزِیۡدُ الۡعَبۡدَ اِلَّا رِفۡعَةً فَتَوَاضَعُوۡا یَرۡفَعۡکُمُ اللّٰهُ عاجزي انسان ته صرف هم اوچت والے عطا کوي، پس عاجزي کوئ! الله پاک به تاسو ته اوچته مرتبه عطا کړي۔ (2)

---

[1] … مسلم، کتاب البر و الصلة، باب استحباب العفو...الخ، صفحه:1002، حدیث:2588۔

[2] … الترغیب لابن شاہین، باب فضل التواضع...الخ، صفحه:80، حدیث:236۔

## خپل ځان هیڅ مهٔ ګڼئ---!!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا چې د خپل ځان د څهٔ ګڼلو والا عادت دے نو دا ډیر خراب عادت دے، هم دا عادت دے کوم چې مونږه عاجزئ اختیارولو ته نه پرېږدي---!! که پهٔ حقیقت کښې نظر وکړو نو مونږ هیڅ هم نه یو، زمونږه حقیقت څهٔ دے؟ مونږه د خاورو نه جوړ یو، پهٔ آخره کښې به بیا خاورې شو۔ بابا بلهے شاه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه لیکي:

مِٹّی دَا تُوں، مِٹّی ہَوُنا، کاہدی بَلے بَلے
اَجْ مِٹّی دَے اُتّے بَنْدیا، کل مِٹّی دے تَھلّے

**وضاحت:** یعني اے بنده! تهٔ د خاورې نه جوړ شوے یې، هم خاورې کیږي به، بیا پهٔ څهٔ خبره باندې غرور، پهٔ څهٔ خبره خوشحالي---!! نن خو د خاورو د پاڅه یې، سبا به د خاورو لاندې لاړ شې---!! بس هم دغه ستا ابتدا او انتها ده۔

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** هم دغه حقیقت دے---!! کاش چې هم دا حقیقت مونږ د زړهٔ نه اومنو او پهٔ عملي طور باندې یې پهٔ خپل ژوند کښې اختیار کړو نو ټوله جګړه به ختمه شي۔

## د فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د عامو مسلمانانو پهٔ شان د حج سفر

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ژوند مبارک ته چې وګورې نو مونږ ته دا ښکاري چې هغوئي ډیر څهٔ وو ❀ هغوئي د الله او د رسول خوښ هم دي ❀ هغوئي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وزیر هم دے ❀ عبادت ګزاره هم دے ❀ ډیر عقلمند هم دے ❀ خلیفه هم دے ❀ دې دُنیا ته چې څومره انسانان راغلي دي او تر قیامته پورې چې به څومره راځي، پهٔ هغه ټولو کښې د نبیانو نه پس او د حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه پس د ټولو نه افضل، د ټولو نه د اوچتې درجے والا هم هغوئي دي، حضرت مولائے کائنات، مولیٰ علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې د چا پهٔ شان د جوړیدو خواهش وفرمائي نو پخپله سوچ وکړئ چې هغه حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به د څومره اوچتې مرتبې والا وي، د دومره افضل او اعلیٰ مرتبے لرلو باوجود د هغوئي دا کمال وو چې هغوئي به ځان هیڅ نه ګڼلو، د عامو خلقو پهٔ شان به یې ساده شان ژوند تیرولو۔ حضرت عامِر بن ربیعه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: یو ځل حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حج د پاره د مکے مکرمې پهٔ لور روان شو، د حج پهٔ ټول سفر کښې چې هغوئي چرته هم پړاؤ وکړو، پهٔ لار کښې چرته هم ایسار شول، نهٔ یې هلته خیمه ولګوله او نهٔ یې شاهانه انتظام وکړو، بس پهٔ یوه وَنه باندې

به يې څادر غوړولو او د هغې سوري ته به کښيناستو. (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے...!! د وخت خليفه دے، د نيمې دُنيا يواځې حکمران دے، د دې باوجود ورسره هيڅ پروټوکول نشته، هيڅ اهتمام نشته، ساده شان څادر دے، په ونه باندې يې وغوړوي او د هغې سوري ته کښيني. دا زمونږ د بزرګانو اداګانې دي، پته نه لګي چې د کوم ځائے نه په مونږ کښې د پروټوکول عادت راغلے دے ❀ په واده ښادۍ وغيره دستورو کښې که مونږ ته ښه هر کلے اونه وئيلے شي نو مونږ له مزه نه راکوي ❀ که د کښيناستو د پاره ښه ځائے رانکړے شي نو تندے مو راچولے وي يعنې بد يې ګڼو ❀ څوک که راوړاندې نه شي او ❀ اونه دريږي او په ادب سره سلام وانخلي نو په زړه کښې مو غلط غلط خيالونه راتلل شروع شي ❀ که څوک زمونږ د شان خلاف جمله ووائي نو غصه راځي. کاش چې زمونږه عاجزي نصيب شي.

دل سے غرور نکلے، بہر حضور نکلے | یارب! مجھے بنادے پیکر تو عاجزی کا

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ معافي وغوښتله

حضرت اَحنَف رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: يو ځل زۀ د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره ووم، په دې کښې يو ګَس حاضر شو او هغۀ د خپل يو حاجت د پاره سوال وکړو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هٰغه وخت په څۀ وجه په جلال کښې وو، د هغوئي په لاس کښې دُرَّه وه، هغوئي په هٰغه دُرَّه د هٰغه ګَس سر ووهلو او هغۀ يې وَرَټلو.

هٰغه ګَس مايوسه شو او واپس لاړو، اوس لا لِږ شان وخت تير شوے وو چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ووفرمائيل: هٰغه ګَس زما خوا له راوغواړئ! نو هغۀ حاضر کړے شو. هغوئي هٰغه دُرَّه هٰغې ګَس له ورکړه او اوئې فرمائيل: **زما نه خطا وشوه، خپل بدل واخله...!!**

هٰغه ګَس عرض وکړو چې عالي جاه! زۀ مو د الله پاک د رضا د پاره معاف کووم. اوئې فرمائيل: وګوره چې واقعي مې د الله پاک د رضا د پاره معاف کوې يا زما په وجه باندې؟ عرض يې وکړو چې نۀ بلکې زۀ مو د الله پاک د رضا د پاره معاف کووم. دا يې چې واوريدل نو حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ کور ته تشريف يوړلو، هغوئي دوه رکعته نمونځ ادا کړو، بيا خپل ځان ته مخاطب شو او اوئې فرمائيل: ❀ اے ابنِ خطاب...!! تۀ کمزورے وې، الله پاک تا ته مرتبه عطا کړه ❀ تۀ غير مسلمه وې، الله پاک تا ته اِسلام عطا کړو ❀ تۀ رسوا وې، الله پاک تا ته

---

[1]... فيضانِ فاروقِ اعظم، جلد:، صفحه:.

عزت عطا کړو ❀ بیا یې ته د خلقو حکمران جوړ کړې، اوس ته مدد غوښتونکي وهې۔۔!! سبا به د الله پاک په حضور کښې څۀ جواب ورکوې؟ هغوئي تر ډېر وخته پورې داسې خپل ځان رټلو۔ (1)

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ چې څومره د کمال خبره ده۔۔!! حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به خپل ځان په کوم انداز کښې مخاطب کولو، د دې دُنیا نه تلل دي، قبر ته کوزیدل دي، بیا د رَبّ په حُضور کښې پیش کیدل دي، هغوئي به د دې خبرې نه څومره ویریدل، څومره په وړو وړو خبرو باندې به یې ځان په ګرفت کښې راوستو۔ افسوس چې نن سبا حالات بل شان دي، مونږ نور وهو، رټو، جنګ جګړې هم کوو خو احساس راسره نه وي، په وړه وړه خبره جنګ ته بدې وهو، سترګې سرې کوو❀ ته ما نۀ پیژنې۔۔!! زۀ فلانکے یم فلانکے۔۔!! زما په مخکښې په اوچت اواز خبرې کوې ❀ زما سره به جګړه کوې ❀ وغیره وغیره جملې وایو او ځان پته نه لګي چې څومره اوچت ګنو، د نورو زړۀ ازارول، غم ورکول خو نن سبا معمولي خبره ده، په وړه وړه خبره جګړې کیږي، خبره تر لاسونو اچولو پورې ځي، دا هر څۀ ولې۔۔؟ په دې وجه چې مونږ خپل ځان څۀ ګڼو، وګورئ چې حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به ځان ته بیا بیا وئیل: اے عمره! ته کمزورے وې، الله پاک تا ته اوچت مقام عطا کړو، اے عمره! الله پاک تا ته هدایت عطا کړو، الله پاک درله عزت درکړو، الله پاک درله اوچت مقام درکړو، سبا به د قیامت په ورځ د الله پاک په حضور کښې د دې حساب څنګه ورکوې۔۔؟ کاش چې زمونږه هم دا سوچ نصیب شي، کاش چې د الله پاک په حضور کښې مو د حاضرۍ ویره نصیب شي، بیا خو به مو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! مزې شي۔

## فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به د غلامانو مدد کولو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ډېر لوئي خلیفه وو، د نیمې دُنیا یواځې حکمران وو، د دې باوجود به یې انداز د عامو انسانانو په شان ساتلو، د هغوئي عادت وو چې د هر خالي په ورځ به د کلي والو اړخونو په لور تللو، د باغونو او پټو وغیره جائزه به یې اخستله، هلته په کار کوونکو غلامانو کښې به که څوک داسې غلام وو چې په وزن اوچتولو کښې به د مشکل سره مخ وو نو د هغۀ په مدد کښې به یې بالکل شرم نه محسوسولو بلکې ورورانډې کیدلو به او د هغوئي بوج به یې اوچتولو۔ (2)

---

[1]... فیضانِ فاروقِ اعظم، جلد:، صفحه:۔

[2]... فیضانِ فاروقِ اعظم، جلد:، صفحه:۔

## د بازار نه به يې سودا راوړله

هغه خوش قِسمته خلق څوک چې به د الله پاک پهٔ لار کښې پهٔ سفر باندې وو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به د هغوئي د کور والؤ خيال ساتلو، د هغوئي کورونو ته به تللو، که د څهٔ څيز ضرورت به وو هغه به يې ورکولو، تر دې پورې چې بازار ته به تللو او پخپله به يې ورله سودا هم اخستله او راوړله۔ (1)

## د شلې نابينا بوډۍ مدد

د حضرت امام اَوزاعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نه روايت دے چې يو ځل د شپې اَمِيرُ الْمُؤمِنِين! حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خپل کور نه ووتلو نو حضرت طلحه بن عبيد الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغوئي وليدلو او پټ پټ پهٔ هغوئي پسې شاته روان شو چې وګورم چې اَمِيرُ الْمُؤمِنِين! دا وخت چرته ځي؟ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو کور ته داخل شو۔ لږ وخت پس د هغې کور نه بهر راوتلو او بيا يو بَل کور ته داخل شو۔ حضرت طلحه بن عبيد الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغه کور پهٔ ذهن کښې کښينولو او سحر چې هغه کور ته لاړو نو اوئې کتل چې پهٔ هغه کور کښې يوه شَلَه نابينا بوډۍ اوسيږي۔ (2)

**سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** څومره د کمال خبره ده، د وخت خليفه پخپله ځي او د خلقو مدد کوي، د بازار نه سودا راوړي، د غريبانانو، بے وسو مدد کوي او پهٔ دې ورته بالکل ځان بدې نه ښکاري۔۔۔!!

دا خير خواهي ده، کاش چې زمونږه هم داسې توفيق نصيب شي، رښتيا خبره ده چې مونږ پهٔ اخوا ديخوا کښې پاتې شو، زهٔ ۔۔۔!! فلانکے د فلانکي ځوي، دومره د اوچتې مرتبے والا به پهٔ خپله اوګه سامان راوړم او فلانکي له به يې ورکووم، داسې نشي کيدے۔۔۔!! پته نه لګي چې ولې مونږ د نورو مدد ته نه وړاندې کيږو بلکې د خپل کور د پاره د بازار نه سودا وغيره راوړل هم مونږ د خپل شان خلاف ګڼو۔ الله پاک دې مونږ ته هدايت وکړي، د نورو پهٔ کار راتلل، خپل، د خپل کور والؤ، غريبانانو، بے وسو کار پهٔ خپل لاس باندې کول، دا هم ډير لوئې سعادت دے۔

## د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بے مثاله عاجزي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارکه ادا هم دا وه چې هغوئي به پخپله بازار ته تلل او سودا وغيره به يې پهٔ خپلو اوګو مبارکو باندې کيښودله او راوړله، حضرت شيخ عبد الحق محدث دهلوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ليکي: نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خپلو خادمانو سره پهٔ کار کښې

---

[1]… فيضانِ فاروقِ اعظم، جلد:، صفحه:۔

[2]… حلية الاولياء، جلد:1، صفحه:84۔

مدد کولو، د بازار نه به يې خپل سامان پخپله راوړلو او بل چا ته به يې د اوچتولو د پاره نه پريښودو۔ (1)

تِری سادگی پہ لاکھوں تِری عاجزی پہ لاکھوں | ہوں سلام عاجزانہ مدنی مدینے والے (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عزت ټول په ټوله د الله او د رسول دے

يو ځل حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ شام مُلک ته تشريف يوړلو، حضرت ابو عبيده بن جَرَّاح رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هم ورسره وو، دواړه داسې ځائے ته ورسيدل چرته چې د زنګونانو پورې اوبه وې، هغوئي په خپله اوښه باندې ناست وو، هغې ځائے ته چې ورسيدلو نو د خپلې اوښې نه کوز شو، خپلې موزې يې ويستلې او په خپلو اوګو باندې يې کيښودې او د اوښې رسی يې ونيوله او اوبو ته داخل شو۔ دا انداز يې چې وليدلو نو حضرت اَبُو عبيده رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عرض وکړو: اے اَمِيرُ الْمُؤمِنِين--!! د دې ځائے خلق چې تاسو په دې حالت کښې ووينې، دا ما ته بالکل ښه نه ښکارې۔

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ووفرمائيل: اے ابو عبيده! که ستا نه علاوه دا خبره بَل چا کړې وه نو به د عبرت نخښه ګرځولې وه، ياد ساته! مونږ غريبانان قوم وو، بيا الله پاک د اِسلام په ذريعه مونږ ته عزت عطا کړو، پس که مونږ د اِسلام نه علاوه چرته په بَل ځائے کښې عزت لټوو نو الله پاک به مونږ رسوا کړي۔ (3)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا هم يو سبق دے--!! نن سبا دلته خلق د غير مسلمو طور طريقې اختيارول عزت ګڼي، د سُنَّت مطابق جامې اغوستل په خلقو ښې نه لګي، د ځانه د خپل عزت جوړولو او بچ کولو د پاره خلق سُنَّت پريږدي، فيشن پرستي ماډرن ګڼلے شي، د اوسني وخت فيشن اختيارول براډ مائنډ (يعني روشن خيالي) ګڼي خو ياد ساتئ چې دا په حقيقت کښې عزت نه دے بلکې ذِلت دے۔ الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ (پارہ:28، اَلْمُنٰفِقُوْن:8) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: حالانکې عِزَّت خو د الله او د هغهٔ د رسول د پاره دے۔ |

ټول په ټوله عزت د الله او د رسول سره دے، چا ته چې هم عزت ميلاويږي، هم د

[1]… مدارج النبوة (مترجم)، جلد:1، صفحه:66۔

[2]… وسائلِ بخشش، صفحه:426۔

[3]… فيضانِ فاروقِ اعظم، جلد:، صفحه:۔

الله او د رسول نه به میلاویږي، د دې نه علاوه که چرته بل ځائے مونږ عزت لټوو نو عزت به نه میلاویږي، اُلټا به د ذِلت ژورې کندې ته غورځیږو۔ نن وګورئ چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ څومره عزت دے، د لویو غټانو سرونه د هغوئي په نوم اوریدو ټیټیږي، خپل خو خپل دي چې پردي هم د هغوئي نوم په ادب سره اخلي۔ دا عزت هغوئي ته د کوم ځائے نه میلاؤ شو، د الله او د رسول په فرمانبردارۍ میلاؤ شو، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اداګانو اختیارولو میلاؤ شو، د الله او د رسول په حُضُور کښې د عاجزۍ اختیارولو سره نصیب شو۔

## عاجزي به څنګ نصیب کیږي؟

مونږ له هم پکار دي چې عاجزي اختیار کړو، د تکبر نه، د ځان خوښۍ نه، په خپله اَنَا کښې د اوسیدو نه لرې اوسو، د بندګۍ اصلي معیار هم عاجزي ده، لهٰذا حقیقي بنده هغه دے څوک چې عاجزي اختیار کړي، ځکه ❀ د عاجزۍ فضائل ولولئ! ❀ د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک سیرت ولولئ! ❀ هدیرې ته د حاضریدو عادت جوړ کړئ! ❀ په زړۀ کښې د الله پاک نه ویره زیاته کړئ! ❀ د تکبر، ځان خوښۍ وغیره نقصانات ولولئ! ❀ د عاجزۍ والا انداز اختیار کړئ! مثلاً ❀ وړومبے سلام کوئ! ❀ نور خلق د ځان نه ښه ګڼئ! ❀ چې کله هم په زړۀ کښې د تکبر او ځان خوښۍ والا خیال راځي نو خپل ګناهونه رایادوئ! قبر او آخرت په خیال کښې راولئ! ❀ چې څومره درنه کیدے شي نو خپل کار په خپلو لاسونو باندې د کولو عادت جوړ کړئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! عاجزي به مو نصیب شي او د تکبر او د ځان خوښۍ په شان د خرابو باطني بیمارو نه به نجات حاصل شي۔ الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د عرب او د عجم د خلیفه جامې

روایت دے چې یو ځل د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په خِدمت کښې عرض وکړے شو چې اوس تاسو اَمِیرُ المُؤمِنِین یئ، الله پاک ستاسو په لاس باندې د قیصر او کسریٰ حکومتونه فتح کړي دي، خواست دے چې تاسو قیمتي جامې اغوندئ! اعلیٰ اعلیٰ خوراکونه کوئ! د پاره د دې چې ستاسو په خدمت کښې په حاضریدونکو باندې ستاسو رُعب وي۔ دا یې چې واوریدل نو حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په ژړا شو۔ بیا یې خواست کوونکي ته ووفرمائیل: آیا حضور نبي رحمت، شفیعِ اُمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې ورځې پرله پسې په مړه ګیډه ډوډۍ خوړلې وه؟ آیا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چرته د زمکې نه اوچت د خوراک د

پاره میز لګولے وو؟ هغوئي خو به پۀ زمکه باندې د خوراک لوښے کېښودو۔ نور يـې ووفرمائيل: زما پۀ عِلم کښې دي چې د الله پاک نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هميشه د وړې چوغه اغوستله چې د سختۍ له وجهې به پرې بعضې وخت د هغوئي مبارک بدن زخمي کيدلو۔ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ کور کښې به چې د ورځې کومه چټائي او د شپې کومه بستره غوړولے کيدله، هغه به دومره څَګه وه چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ بدن مبارک به د هغې نخښې جوړيدلې، رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې ژوند تير کړو چې د شپې به ويخ وو، رکوع او سجدې به يـې فرمائيلې، شپه او ورځ به يـې پۀ خشوع وخضوع سره ژړل تر دې چې الله پاک هغوئي د خپل رحمت او رضوان پۀ لور اوبللو۔

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ د آخرت د فِکر والا، د عشقِ رسول والا خبرې چې يـې واوريدلې نو عرض کوونکے واپس لاړو او حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ تر آخري وخته پورې د سادګۍ او عاجزۍ والا جامې اغوستل جاري وساتلې۔ (1)

الله پاک دې زمونږه هم سادګي نصيب کړي! پۀ اغوستو کښې سادګي، پۀ خوراک کښې سادګي، پۀ کړۀ وړۀ کښې سادګي، پۀ وئيلو اوريدو کښې سادګي، پۀ هر يو لحاظ سره پۀ ژوند کښې سادګي پکار ده، د دې سره عزت زياتيږي۔

## د سادګۍ فضائل

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ د پاک سيرت پۀ دې مبارکه حصه کښې د نصيحتونو ډير مَدَني ګلونه دي، اګر چې پۀ ښو جامو اغوستو کښې هيڅ باک نشته بلکې پۀ ښو نيتونو سره د اجر او ثواب اُميد دے، خو د داسې جامو اغوستو نه بچ کيدل ډير ضروري دي د کومو د اغوستو سره چې پۀ غرور او تکبر کښې د اخته کيدو انديښنه وي، د کومو د اغوستو سره چې پۀ زړۀ کښې د خپل قدر زياتيدو خواهش پيدا شي چې زما جامو ته خلق وګوري نو زما عزت وکړي۔ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څَګې او تنګې جامې اغوندئ د پاره د دې چې قدر زياتيدو او فخر ته پۀ تا کښې څۀ ځائے ميلاؤ نشي۔ (2)

---

[1]… تاريخ دمشق، عمر بن الخطاب، جلد:44، صفحه:294، 295 ملخصاً۔

[2]… کنزالعمال، کتاب الاخلاق، التواضع، جز:3، جلد:2، صفحه:49، حديث:5728۔

## ادنیٰ جامې د ایمان علامت دے

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د ادنیٰ درجے جامې اغوستل د ایمان نه دي۔ (1) (یعنې د الله پاک د پاره د عاجزۍ کولو سره اعلیٰ جامې پرېښودل او ادنیٰ جامو له ترجیح ورکول د ایمان علامت دے۔)

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الأمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حدیث لاندې فرمائي: د دې مطلب دے چې په معمولي جامو، شلیدلو زړو جامو باندې نه شرمیدل کله اغوستل هم د متقي مؤمِن علامت دے، همیشه د اعلیٰ درجے د جامو اغوستو عادت جوړول چې په معمولي جامو اغوستو کښې شرم ورځي دا طریقه د تکبر کوونکو ده، دلته د ایمان نه مُراد کمال ایمان دے۔ (2)

## د فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د تکبر د نحوست نه پاکوالے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د اَمِیرُ المُؤمِنِین حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د عاجزۍ او انکسارۍ لوستلو سره دا خبره په ډاګه کیږي چې فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ که یو خوا د عاجزۍ او انکسارۍ نمونه وه نو بل خوا حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د تکبر په شان د نحوست نه پاک صفا وو۔ ځکه چې تکبر دا دے چې انسان خپل ځان د نورو نه لوئي وګڼي او نور د ځان نه کمتر وګڼي۔ د تکبر انجام ذلت او خواریدل دي څوک چې تکبر کوي نو یقیناً هغهٔ به ذلیله کیږي۔

تَکَبُّر عَزَازِيۡل رَا خُوَارۡ کَرَدۡ | بَزَنۡدَانِ لَعۡنَتۡ گِرِفۡتَار کَرَدۡ

**وضاحت:** تکبر عزازیل (یعنې شیطان) ذلیل او خوار کړو او هغهٔ یې د لعنت په جیله خانه کښې قید کړو۔

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ ته د مسلمانانو د وړومبي خلیفه اَمِیرُ المُؤمِنِین حضرت ابو بکر صِدِّیق رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه پس په اُمت کښې د ټولو نه د افضل او بهتر کیدو د بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه سند عطا شو خو هغوئي چرې هم فخر ونکړو او نهٔ یې یو مسلمان کمتر وګڼو۔ بلکې بعضې وخت به هغوئي نور مسلمانان د خپل ځان نه بهتر ارشاد فرمائیل۔ د حضرت ابو رافع رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه روایت دے، فرمائي چې یو ځل اَمِیرُ المُؤمِنِین حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ زما په خوا تیریدلو نو ما په ښکلي لهجه کښې د قرآنِ پاک تلاوت کولو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ چې واوریدو نو ارشاد یې ووفرمائیلو: يَا اَبَا رَافِعۡ! لَاَنۡتَ خَيۡرٌ مِّنۡ عُمَرَ تُؤَدِّيۡ حَقَّ اللهِ وَحَقَّ مَوَالِيۡكَ یعنې اے ابو رافع! یقیناً چې تهٔ د عمر [رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ] نه بهتر یې چې تهٔ د الله پاک حقونه او د

---

[1] ... ابو داود، کتاب الترجل، باب النهی عن...الخ، صفحه:653، حدیث:4161 ۔

[2] ... مرآة المناجیح، جلد:6، صفحه:109۔

خپل آقا [صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] حقونه په ښه طریقه ادا کوي۔ [1]

| | |
|---|---|
| نگاہِ خیرِ بشر کا ہے انتخاب، عمر | ہے عَزم و ہمت و عدل و وفا کا باب، عمر |
| یونہی نہیں ہیں ولایت کا آفتاب، عمر | ہیں بارگاہ نبوت سے فیضیاب، عمر |
| کہا حضور نے ہوتے اگر نبی باقی | خدا کا ہوتے بلاریب انتخاب، عمر |
| علم جہان میں اسلام کا بلند کیا | جہان بھر میں یوں لے آئے انقلاب، عمر |
| تمام عمر نہ راحت انہیں میسر ہو | ہوں دشمن آپ کے جل بھن کے یوں کباب، عمر |
| وسیلہ شہِ بطحا نگاہِ لطف و کرم | کہ حال آپ کے ازہر کے ہیں خراب، عمر |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار:
## د تفسير اوريدو او نورو ته د اورولو حلقه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** په زړهٔ کښې د عشقِ رسول زياتولو، په سنتو باندې د تللو، د نيک نمونځ ګزاره جوړيدو، د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د محبت حاصلولو، د هغوئي په نقشِ قدم باندې د تللو د جذبې حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ او د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې هم ښهٔ پوره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي۔ د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د تفسير اوريدو او نورو ته د اورولو حلقه** هم ده۔

**قرآنِ مجيد زده کول ډير د فضيلت کار دے:** په حديثونو کښې داسې مضمون دے چې په داسې حال کښې سبا کړه چې يا خو تهٔ عالِم يې او يا د دِين طالبِ عِلم [2] د يو روايت مطابق سحر د قرآنِ مجيد يو آيت زده کول د 100 رکعتو نفلونو

---

[1] ... شُعَبُ الْاِيمان ، باب فی حق السادة علی الممالیک، جلد:6، صفحہ:386، حدیث:8613 ۔

[2] ... دارمی، المقدمۃ، باب فی ذھاب العلم، صفحہ:96، حدیث:254۔

کولو نه بهتر دے۔ [1]

❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د دعوتِ اِسلامي عاشقانِ رسول د سحر د نمونځ نه پس د تفسیر اوریدو او نورو ته د اورولو حلقه لګوي ❁ په دې کښې د قرآنِ پاک درې آیتونه ❁ د هغې ترجمه او تفسیر اوریدے او اورولے شي ❁ د فیضانِ سُنَّت دَرس ورکولے شي ❁ شجره شریف لوستلے شي ❁ دُعا کیږي او ❁ په آخِره کښې د اشراق او څاښت نفلونه هم ادا کولے شي۔

❁ **تاسو هم د تفسیر اوریدو او نورو ته د اورولو په حلقه کښې د شرکت کولو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!** ډیر برکتونه به درنصیب شي ❁ د حدیثِ پاک مطابق څوک چې سحر جومات ته د نیکۍ زده کولو د پاره لاړ شي، هغهٔ ته د عمرې ثواب میلاویږي۔ [2] ❁ چې د سحر وخت په نیکو کښې تیر شي نو برکت به مو نصیب کیږي ❁ ټوله ورځ به مو ښهٔ تیریږي ❁ سحر سحر به مو د عِلمِ دِین زده کولو موقع نصیب کیږي ❁ د شجره شریف په شکل کښې به د نیکانو بندګانو ذِکر کیږي ❁ د هغوئي محبت به مو په زړهٔ کښې کښیني ❁ د اولیائے کرامو رُوحاني توجه به درنصیب کیږي ❁ ایمان به مو تازه کیږي ❁ د هغوئي په وسیله به شوې دُعاګانې **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!** قبلیږي ❁ یو ډیر لوئې برکت دا چې د سحر **د نمونځ نه تر اشراق پورې په جومات کښې ایساریدل د مصطفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت دې** په دې باندې به د عمل کولو سعادت درنصیب کیږي ❁ د حدیثِ پاک مطابق څوک چې د سحر د نمونځ نه پس په ذِکرُ الله کښې مشغول اوسي، بیا د اشراق، څاښت نفلونه وکړي، هغهٔ ته به د دوزخ وور نهٔ ورنزدې کیږي۔ [3]

## ویزې میلاؤ شوې

راځئ چې ستاسو د ترغیب د پاره یو مَدَني سپارلے واورو، یو اِسلامي ورور تقریباً د 14 کالو نه په بهر ملک کښې دے چرته چې د هغهٔ خپل کاروبار دے، هغهٔ ته یو ځل په کارخانه کښې د کار کوونکو ضرورت پیښ شو۔ هغهٔ د ویزو د پاره بیا بیا درخواستونه جمع کړل، خو د ډیرو کوششونو باوجود ویزې میلاؤ نه شوې۔ ډیر کلونه داسې تیر شول، هغهٔ ډیر پریشانه وو ځکه چې د ملازمانو د نشتوالي په وجه د هغهٔ نقصان کیدو۔ خیر هغهٔ همت وکړو یو ځل بیا درخواست جمع کړو، په دغه وخت کښې یو اِسلامي ورور هغهٔ ته د **شجرهٔ قادریه عطاریه** نه د شجرهٔ عَالِیَه د

---

[1] ... ابن ماجه، باب فضل من تعلم القرآن و علمه، صفحه:48، حدیث:219۔

[2] ... مستدرک، کتاب العلم، باب من جاء المسجد...الخ، جلد:1، صفحه:281، حدیث:317۔

[3] ... شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحه:420، حدیث:3957۔

دُعائيه شعرونو لوستلو مشوره ورکړه۔ هغهٔ د شجرې شريف دعائيه شعرونه پرله پسې لوستل شروع کړل۔ **اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د شجرهٔ قادريه رضويه ضيائيه عطاريه** لوستو پهٔ برکت د هغهٔ هٰغه کار کوم چې د تيرو ډيرو کلونو راسې نه کيدو، ډير پهٔ حيرانئ سره پهٔ يو څو ورځو کښې وشو او هغهٔ ته ويزې ميلاؤ شوې۔

مُشکلیں حل کر شَہِ مشکل کُشا کے واسطے | کر بلائیں رَد شہیدِ کربلا کے واسطے

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د مَعرِفَةُ القُرآن موبائل ايپلي کيشن تعارف

**خوېږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن پهٔ نوم د **مَعرِفَةُ القُرآن** جاري کړے دے۔ تاسو د دې ايپلي کيشن پهٔ ذريعه ❀ د قرآنِ پاک لفظي او با مُحَاوَرَه ترجمه لوستلے شئ ❀ پهٔ دې ايپلي کيشن کښې د آيتونو عنوانات هم ورکړے شوي دي، د کومو پهٔ مدد چې د خپلې خوښې مطابق موضوع او قرآني آيتونه کتلے او لټولے شئ۔ خصوصاً مبلغ اِسلامي وروڼه د دې آپشن نه ډير مدد اخستے شي ❀ پهٔ دې ايپلي کيشن کښې سرچ آپشن هم موجود دے، د کوم پهٔ مدد چې د آيتونو پهٔ لټولو کښې اسانې پيدا کيږي ❀ د موضوعاتو د پن پوائنټ کولو آپشن هم ورکړے شوے دے۔ تاسو هم دا ايپلي کيشن انسټال کړئ! پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوېږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سعَادت حاصلووم۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِى فَقَدْ اَحَبَّنِى وَمَنْ اَحَبَّنِى كَانَ مَعِى فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره مَحَبَّت وکړو هغهٔ زما سره مَحَبَّت وکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## يو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر خالي پهٔ ورځ **امیرِ اهلِسُنّت** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه **پهٔ مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني**

1... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

**مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې په ورځ به هم د ماسخوتن د نمانځه نه پس په مَدَني چينل باندې **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!** هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، په کومه کښې چې به شيخ طريقت، امير اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخ طريقت، امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د معروف کُرخي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فيضان** اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) کړي! ❁ **مُحَرَّم شريف** د اِسلامي کال وړومبی مياشت ده۔ په دې مياشت کښې حضرت امام حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د هغوئي ملګري د کربلا په ميدان کښې په مظلوميت سره شهيدان کړے شول، د هٰغه پاکو هستيانو د قربانو او د دې مياشت د فضائلو نه د ځان خبرولو د پاره درې رسالې **(1): امام حسین کی کرامات (2): امام حسین کے واقعات (3): حسینی دولہا اور محرم کے فضائل** ولولئ۔ دا رسالې **امام حسین کی کرامت** **قيمت 30 روپی**، **امام حسین کے واقعات، حسینی دولہا اور محرم کے فضائل** **قيمت 20 روپی** د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه په بيعه واخلئ۔ پخپله يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د زُلفو او د سر د ويښتو سُنَّت او آداب

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د چا چې ويښته وي هغهٔ دې د هغې اِکرام وکړي۔ [1] يعني هغهٔ دې وينځي، تيل دې ورکوي [يعني غوړوي دې] او ګمنځوي دې۔

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زُلفان مُبارک به کله د غوږونو مبارکو د نيمې پورې ❁ کله به د غوږونو مبارکو د آخرئ حصې پورې او ❁ بعضې وخت به چې غټ شول نو د اوګو مبارکو يعني د اوګو مبارکو سره به ئې لګيدل ❁ مونږ له پکار دي چې موقع په موقع درې واړه سُنَّت ادا کړو، يعني کله د غوږونو د نيمې پورې، نو کله د دواړو غوږونو پورې او کله تر

[1] ... ابو داؤد، کتاب الترجل، باب فی اصلاح الشعر، صفحہ:653، حديث:4163۔

اوګو پورې ويښته اوساتو ❀ بعضې خلق [په ويښتو کښې] نيغه يا اُلټا لاره [يعنې کرښه] اوباسي دا د سُنَّت خلاف کار دے ❀ سُنَّت دا دي چې که چرې په سر باندې ويښته وي نو په مينځ کښې دې لاره [يعنې کرښه] ويستلے شي ❀ د نارينه سره اختيار دے چې د سر ټول ويښته وخرَئي يا يې غټ کړي او په مينځ کښې يې لاره [يعنې کرښه] اوباسي ❀ حضرت اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په سر مبارک اکثر تيل لګول [يعنې ويښته به يې غوړَول] او ګيره مبارکه به يې اکثر ګمنځوله او اکثر به يې په سَر مُبارک باندې کپړه کينښودله [يعنې سر مُبارک به يې پټولو] تر دې پورې چې کپړه به په تيلو لمده شوه۔ (1)

تیل کی بُوندیں ٹپکتی نہیں بالوں سے رضا | صبحِ عارِض پہ لُٹاتے ہیں ستارے گیسو

**وضاحت:** اے رضا! د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو زلفو نه چې د تيلو کوم ځاڅکي کيږي، ما ته خو دا ننداره داسې لګي لکه څنګه چې د ستورو ډکه شپه د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مخ مبارک باندې، په **رُخِ وَالضُّحٰی** باندې ستورې نولي۔

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550** سنتيں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقان رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

آؤ مَدَنی قافِلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنّتیں سیکھیں گے اِس میں اِنْ شَآءَ الله سر بَسَر

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

---

[1] ... 550 سنتيں اور آداب ، صفحه:41 تا 43 ملتقطاً۔